پوهاند دوکتور زيا ر

# افغانستان د سترو لوبو لوبغالياو جهادي- ابمپرياليستي لوبغاړي

د نا پانګوالي زبرځواک له راپرځوني سره پانګواکي دې داسي انګېرله چې نور به دګر دې نړۍ برخليک يو مخيز په خپله ولکه کي راولي او څنګه يې چې زړه غواړي، هسي به يې پر يوه ګوته څرخوي راڅرخوي. له دې نا خبره چې د هماغه ګتلي صليبي جنګ اندېوال بنسټپال يې د راپرځېدلي ((قانوني سيال)) ځايناستي کېږي او د سپټېمبر د نهمې په بېساري شرموونکي بخوله يې ټولي نړۍ ته سپکه وړۍ کوي.
ځکه بنسټپالو ترې دا تمه نه درلوده، د هغه دومره جنګ و جهاد په پاداش کي يې د هماغه هېواد تاج و تخت ور پر لاس کړي چې د همدوی په لاس يې پر سپېره کنډواله بدل کړی وو، هغه هم د يوې ډلي پرلاس چې د خپلمنځي کورګډوجنګ جګړو پرته يې بله پايله نه درلوده. پر دې يې هم خواسره نه شوه او يو مخيز يې نوي روزلي شاګردان ((طالبان)) ور ځايناستي کړل. بيا هم په دې خام خيال چې ګوندې له دې سره به ټول وځپل شي او خپلي پانګواکي سيمي او ورسره تړلي ګټې به په آرامه او آسانه راخوندي کړای شي!
دا څه هېښنده نه وه، کله چې امريکا د ترهګرۍ پر ضد جګړه ډاګيزه کړه او د نژدې انګرېز سلاکار په هوکي سره يې د اسامه د ځالي په توګه پر افغانستان د پوځي يرغل تا بيا کوله، د بې. بې. سي. تېلوېزيون د پردې له شا يوه لوغړنه څېره پر خبرو راغله:
زه بيا هم د پوځي لګښت او د سرتېرو د بلهارۍ پر ځای د هماغه پخواني چم ((ببل يې کړه، اېل يې کړه))سپارښت کوم .
د څارګرې يا سياسي څېرې داسي انساني ضد او بيا افغاني ضد سپارښتنه د اړوندو يرغلګرو له موخي سره هم هملورې او همغږې نه وه، ځکه يې پوره يوه لسيزه آزمويلې وه او پايله يې همدا چې د همدوی پر وړاندې يې افغاني خاوره پر يوه ناماتېدوني سنګر واړوله او له همدغه مورچله يې آسمانڅکونه ور پر نښنه شول او دايي هم په غړولو سترګو وليدل چې اړوندو بنسټپالو په خپلمنځي جګړو يو تاريخي هېواد له لکونو بېګناوو هېوادوالو سره د نېستۍ پر ګړنګ ودراوه، خو پخپله ترې ژوندي راووتل.
د توجيه هڅې،
د امريکايي چارواکو په توپير د انګرېزي دوی ډېره هڅه کوله چې تر هرڅه له مخه د ټوليزو رسنيو له لارې يرغل د ډېر پېرو طالبانو په ځبنه توجيه کړي. په دې لړ کي هماغه مهال له بې. بې. سي. پښتو ويااندانو سره د انګليستان د سروزير توني بلېر دوه پر له پسې مرکي د يادوني دي. ده ټول زور پر دې آچاوه چې د طالبانوپر ضد جګړه د پښتنو يا نورو

پر ضد نه ده، بلکې له هغو سختدریځو او ترهګرو څخه د افغانانو او نورو نړیوالو د ژغور لپاره تر سره کېږي. ویل کېده چې د افغانستان د دولتي لنډمهالي مشرتابه لپاره سپینې ماڼۍ ته د دوو غورو (دراني او غلجي) پښتني ټبرونو د دوو غبرګو جهادي استازیو (کرزي او عبدا لحق) د نومونې سلا هم بلېږ ورکړې وه، مانا دا چې که د شمالي طالبي ضد ټلواله اله ماله بیا واکمنۍ ته رسول غواړي، نو له دې کار سره به د زاړه شاهي پېړله دود سره سم د سر سړی له جنوب څخه ور وټاکي!
ورپسې د بهرنیو چارو وزیر جک سترا افغان ولس ته د ګپ ورکولو په هڅه دا منښته هم وکړه چې د افغانستان په بې ټیکاوۍ (بې ثباتۍ) کې انګرېز دولت له نولسمې پېړۍ راهیسې ونډه لرلې او پر له پسې جنګونه یې ور باندې تپلي دي. خو بیایې هم پردې ځان ناګاره واچاوه چې په مجاهدینو پسې د طالبانو د غمیزې نوښتګر هم همدوی ول.
په هره توګه، نه امریکا چا وپوښتله، نه برېتانیا او نه نور لویدیز ټلوال چې دغه یرغل یایې په خپله خبره، پوځي مرسته د کوم افغاني حکومت په غوښتنه او بلنه تر سره کړه؟ آیا د وخت له طالب حکومت سره کومې هو- نه ته رسېدلي ول، یا یې لږ تر لږه ورته د جګړې یو خبر هومره ورکړی وو؟
نو که داسې نا اعلامه جګړه یې پر افغانستان موجه او قانوني ګڼله،ولې یې یوویشت کاله مخکې د افغانستان د دموکراتیک جمهوریت په غوښتنه، هغه هم د ورتېر کال د امنیتي تړون له مخې، شوروي پوځي مرسته، تېری او یرغل باله او په همدغه پلمه یې د بنسټپالو اړوندې ترهګري ډلې ټپلې دومره را سمبالې او غښتلې کړې چې دا دی تر موږ وروسته یې پر همدوی را باندې کړل او د دویم ځل لپاره یې جنګ ځپلی او زخمي زخمي هېواد بیا هم د بلې سترې لوبې لوبغالی وګرځاوه، د چا خبره د هماغو خپلو کرلیو رېبلو ته یې بیا هم پخپله را ودانګل او په دې ډول یې لا نورې بترې ناخوالې او بخولې پر اسکېرلي افغان ولس را وستل پیل کړل!
لږ تر لږه پرې خپل هېوادوال او پارلماني اپوزیسیونونه د خپلو سرتېرو او ملیاردو لګښتو او بلهاریو په اړه کومه نیوکه او ګوتڅنډنه هم نه کوي چې افغانستان ورته د عراق هومره کومه زېبښاکګرانه او جیوپولېټیکي ګټه هم نه لري او د چا خبره دا مړی په دومره ژړا نه ارزي!
دا هم ګردې نړۍ ته پوره څرګنده ده چې نني یوازېنې ((امریکایي)) زبرځواک له را پرځېدلي هغه څخه دا مخکېوالی لري چې تر هر یرغل او نیواک وروسته د اتلانتیک پوځي تړون د یو شمېر غړیو هېوادو په سېمبولیک ډول را ټلوالولو او ورپسې د ملګرو ملتود یوې نیمې مرستندویې څانګې په را ښکولو هغه هرڅه ته نړیوال پرتوګ وراغوندي او له دې سره د نورې نړۍ په سترګو کې شګې ورشیندي چې د وروستیو کلو بېلګې یې په سومالیا، افغانستان او دوه وارې هم په عراق کې د یادونې وړ دي زموږ پر هېواد یې د سوچه بربنډ یرغل یوه ښکېلاکګرانه نښه داوه چې هماغې لړه کې راپرځېدلي بېلتونپالې ((شمالي)) ټلوالې ته یې یو ځل بیا د اسکېرلي ولس برخلیک ور وسپاره چې د ټول هېواد او بیا کابل د ویجاړیو او اورو وینو د پېړې پېړۍ یې پرغاړه ګرځاوه او په وچ زور یې د بون او بیا په پرله پسې تش په نامه لویو جرګو او ټولټاکنو قانوني درېځ ور وبښه!
پېنځه کلنې ناخوالې او ناکامې،

پر افغانستان د امریکا په مشرۍ د لویدیزې پوځي ټلوالې د یرغل د سړنۍ (پېنځمې) کالیزې په درشل کې له کابله تر واشنګتنه ډېرې منډې ترنډې وشوې چې د ټلوالې د ټېروپېنځوکلو د پایلو د ارزونې لپاره کومه بریا نیمه افغانانو،امریکاییانو او نورو ته وړاندې کړای شي، خو یو غشی هم پر موخه و نه لګېد. حکه به دې وروستیوکې د طالب چریکانو بریدونه او بیا خانمرګي برېدونه له سوبله تر سوېل ختیځ او شمال ختیزه را وغځېدل او د بېوسو او بې تنخا افغان سرتېرو او ولسي وګړو د بېخرته مالي او ځاني تاوانونو تر څنګه یې ټلوالې ته هم پوره زیانونه ور واړول.
امریکا هېواد مشر بوش هم دا راز نهیلوونکو ګزارشونو په تېره د کانګرسیانو او سناتورانو هغو دومره قهروړی کړ چې په سپینه مانۍ کې یې له خپل لاس کښېنولي کرزي او جنرال مشرف سره یې د خبرو اترو په بهیر کې د پاکستان څارګري سازمان (ISI) په ډاګه د ټلوالې د ناکامیو مسؤول وښووه. لکه څنګه چې رسنیو خپره کړه، کرزي هم د بوش په همغږۍ کې له مشرف سره یو لاس روغبړ هومره و نه کړ، حال دا چې له مخه یې د نیو یارک په ځو لیدنو کتنو کې غاړه غړۍ شوی وو.
د پاکستان دوه مخي،
د رسنیو له ګزارشو له مخې د پاکستان هېواد مشر د ملګروملتو په سراسري کالغونډه (عمومي اسامبله) کې د ګډون په پلمه تر هرڅه ړومبی خپل هغه تازه چاپ کړی کتاب (On the Line of Fire) انګروزه او رېکلام کړ چې امریکایي چارواکو او نورو نړۍ ته د پاکستان او بیا یې د څارګري سازمان له خوا له طالبانواو نورو ترهګرو سره پر مرسته او تړاو خاورې واړوي. له واشنګتنه یې هم ځان نېغ لندن ته راورساوه چې تر هر څه له مخه له تونې بلېر سره په کتنه کې د دفاع وزارت د یوه چارواک له خوا وربانديې د ورته لګولو تورونو د سپیناوي هڅه وکړي او ورپسې یې له وخته په ګټه اخېستنه د اکسفورډ په یوه لوی تالار کې دوه زرو پاکستانیانو ته یې بیا هم د خپل هېواد پوځي څارګري سازمان په دفاع او ستاینه کې دا ساتې باتې رامخته کړې چې امریکا به یې له همکارۍ پرته له روسانو څخه هېڅکله سوړ جنګ نه وای ګټلای اونه به مجاهدین د کابل ترتاج و تخته رسېدلي ول او اوس هم بې له دغه سازمانه د طالب ترهګرو ورکاوی ناشونی دی.
خو مشرف د دې لپاره چې د پاکستاني سرچینو په ګډون یې د ټولې نړۍ نټه نه منونکې لاسوندونه او زبادونه یو مخیز ردولای نه شول، نو بیا یې هم ورسره د کورناستو څارګري چارواکو د ښکېلتیا ژولې ژولې غوندې منښته وکړه.دا چې په کتاب کې یې بیا پخواني ( ISI) مشر جنرال حمیدګل په نامه یاد کړی وو، نو هغه یې له بې. بې. سي. سره د اکتوبر د دویمې په مرکه کې داسې غبرګون وښووه:
((زه د طالبانو تر رامنځته کېدنې څلورکاله مخکې ګوښه شوی وم، خو له جهادي مشرانو او کارندویانو (فعالینو) سره تر اوسه دوستانه اړیکي لرم. لکه له پروفېسر رباني، استاد سیاف، انجینر حکمتیار سره، مجددي خو لاڅه کړې څه کړې چې زما د زامنو نکاح ګانې یې راتړلې دي. حامد کرزی خو هغه مهال لا کشر وو، مګر پلاریې راسره پوره ناست پاست پاتې شوی دی . . .).
حمیدګل بیا دا و نه ویل چې له مجددي، رباني . . . سره د پېښور له ګورمنټ هوسه تر کابله بدرګه شوی وو او بیا ورسره هملته د سر سلاکار په نامه د وزیر اکبرخان مېنې په

یوه مېلمستون کې دېره وو، تر هغې چې د کابل ښار د اوروويڼو ننداره يې په خپلو سترګو وليدله او د خپل مهال د سروال جهادي دېکتاتور له زوی اعجازالحق او نورو راغلو جهادي ملګرو د مشر په توګه يې پر نورو ولجو سربېره د ګرانبيو موزيمي هغو په لړکې د اعجاز ډالۍ (د وزير اکبرخان تمانچې) ته هم زړه اوبه اوبه کېده!
مشرف په سرحد، بلوچستان او بيا قبايلي تړانګوکې پر واکمنو اسلامي بنسټپالو، په بله وينا، پاکستاني طالبانو هم ځان ناګاره کړی چې تازه پر تازه يې ورباندې په تش نامه لويه جرګه کې تر ډېورنډ کرښې ور اخوا ورانکارۍ او ترهګرۍ بندې کړې، خو ټول زور و ځواک يې دېخوا ته را څکولی دی، تردې چې ترخه پايله يې امريکا يې او ناټو نيواکګرو ته پوره ډاګيزه شوه.
له دغو ګردو ناګاريو او بيا اړوپېچو يا ضد و نقيضو څخه دا پايله تر لاسه کېدای شي چې خواره کی مشرف تر کرزي زيات د بنسټپالۍ تر زور و فشار لاندې دی. څو ځله ورباندې مرګوني بريدونه شوي او په دوه ګونو ايالتوکې واکمن ((مجلس عمل)) يا د ټولواسلامي بنسټپالو ګوندونو د ټلوالي د لعنت غاړه کی يې هم ترغاړې ده چې د يوه پياوړي اپوزېشن په توګه يې پارلماني او خياباني مبارزو پوځي حکومت تر بل هر مهاله زيات له ګواښنې او ننګونې سره ورمخامخ کړی دی.
د پاکستان بې پلوه او آزاد خياله سياسي کارندويانو او ژورنالېستانو له بې. بې. سي. سره په ګڼو مرکو کې له افغانستان او امريکا سره د طالبانو او اړوندو ترهګرو په برخه کې د پاکستان دوه مخي وخت پر وخت ډاګيزه کړې او دايې هم بيا بيا څرګنده کړې چې ISI له اره په دولت کې يو بل دولت دی. په دې لاسوند داسې برېښي چې اوسنی پوځي دېکتاتور او بيا سېکولر هېواد مشر د مخنيوانتخابي هغو په توپير د تورې ارتجاع پر وړاندې بيا هم تر وسې وسې يو نا پوخلاکېدونکی دريځ لري. دده خو د يوه لوړ پوړي پوځيوال په توګه پر نوموړي سازمان يو څه زهر چلېدای شي او که بل هرملکي ټاکلی هېواد مشريې ځايناستی شي، پر وړاندې يې يو سوڼ هومره هم کولای نه شي، په تېره که د سېکولرې بېنظيرې پر ځای بيا د نوازشريف غوندې يو اخوانی ټولټاکنې وګټي.
د اکتوبر پر لسمه پاکستان ته د انګرېزي جنرال ديوېډ ريچارډ (چې د افغانستان د نيواکګرو ځواکونو بولنديي له امريکايي ځواکونو څخه ناټو ته له لېږد سره ورته سربولندويي ور تر غاړې شوې) ناڅاپي تګ او د طالبانو په را مهارولو کې يې پر مشرف باندې د يوې رښتينې او اغېزمنې همکارۍ زيات ټينګار هم دا راوښوولـه چې امريکا په خپلو پينځه کلنو پوځي کارکړن کې پاتې راغلې او له همدې کبله يې ورغليو سناتورانوته هم کومه په زړه پورې بريا وړاندې نه شوه کړای. نومور پاکستاني ژورنالېست احمدرشيد درې ورځې وروسته په نېشنل هرالد ترېبيون کې له امريکا څخه ناټو ته د سربولندويۍ لېږد د همدغو ناکاميو پايله وګڼله او زياته يې کړه، د ناټو برى به تر هرڅه له مخه په دې کې نغښتی وي، چې د پاکستان پر وړاندې يو زغرده، روښانه او پرېکنده دريځ راخپل کاندې!
د کرزي منښتي او پلمې،
کرزي خواره کې هم د کاليزې د نمانځنې لپاره له دې پرته نور څه نه درلودل چې سيده او ناسيده خپله بېواکي او يو مخيزه اړوندي ځانته پرده کړي. د اکتوبر پر اوومه يې له بې. بې. سي. سره په مرکه کې په خورا ژولي ژولي پښتو ګړدود، هغه هم د ګوتڅنډنې پرځای

له امریکايي ځواکونو دا ګيله وکړه چې ولې يې له طالب مشرانو سره د خبرو هڅه ونه کړه او وار له واره يې د شمالي ټلوالې په لمسون او ناسمو ګزارشو د بې امانه بريښناوزمو بمبارونو لار راخپله کړه. که څه هم د کرزي دغه خبرې د طالبانو را پوخلاشويو غټانو، لکه ملا راکټي، ملادادله، ملاضعيف . . . په خپلو مرکو کې هم څه ناڅه هوکې کړې اوپه ترخ کې يې دا منښته هم پر ډاګه کړه چې پاکستان يې بيا هم يوازېنی اسره وه او هغه هم پر تش ميدان پرې نه ښوول.
له مشرف سره د کرزي ګډ اړخ دا دوه مخيوالی دی چې کله امريکا، انګليستان يا بل لويديز هېواد ته راشي، د ګردو ناکاميو پړه په خپله دولتي اډانه، واک و ځواک کې پر جهادي يارانو اچوي. لکه څنګه يې چې پر ۲۰۰۲ کال د اکسفورډ پوهنتون د ختيځپوهنې په څانګه او سږکال په لندن کې دا په زغرده وويل چې د شوروي پوځې نيواک پرضد جهاد کې بنسټپالوته يوه اړتيا وه، خو اوس ترې خلاصېدای نه شي. پخپله غټان يې ورسره په حکومت کې پر لوړو لوړو څوکيو ناست دي او په وسله والې تنظيمي ليکې يې په درست هېواد کې خورې ورې دي.
موخه يې دا چې د پاکستان د ISI غوندې دغه ډلې ټپلې د افغان دولت د ننه يو دويم دولت دی او که کوم سروال يې له څوکی لرې کړ شي، بيا نو پرهېڅ اړ نه وي. آن په پوليسي او پوځي يونيفورموکي وسله والو غلاوو داړو او آن ترهګريو ته مخه کوي.
خو کله چې دغه ببواکه او ببوسه کرزی بيرته هېواد ته ستون شي، بيا نو د رباني، سياف، حضرت او نورو پر کورو ګرځي او د روغ رنځور پوښتنه يې کوي او په ولسي جرګه کې يې د نوي نومولي وزير يا بل چارواک د هوکې لوړترين آر و معيارهم جهادي مخينه ده. پردې سربېره وخت پر وخت خپله جهادي مخينه هم په پوره ښاخ و وياړد نورو په سترګو کې ور ننه باسي.
هسې خو بې له هغې ټولو جنګ ځپلوافغانانو او بهرنيو نيواکګرو ته د لمر په څېر ښکاره ده چې د مشرف له ادعاوو سره سم پخپله په افغانستان کې د ننه د کرزي تر ږيرې او چپنې لاندې تر طالبانو بتر ورانکاري او ترهګر ټيکاو لري. که طالبان له پاکستانه را اوړي او په سرحدي ترانګه کې له هېلمنده تر کونړه يو لړ برېدونه ترسره کوي، نوپه ټوليز ډول په درست هېواد کې ولې دا دومره انساني ضد جنايتونه مخ پر بره روان دي؟
د نجونو ښوونځي سوځول کېږي، پر سرلوڅو ښځو بريدونه کېږي، غلاوې غدووې،مرګ ژوبلې، د ماشومانو او شتمنو تروښنې او تښتونې، د نړيوالې مافيا په چوکاټ کې د ترياکو کر و قاچاق، د ځانګړو او ټوليزو شتمنيو بلوسنې، په تېره د تاريخي لرغونتوکو او کانو سپړنې او پر رڼا ورځ يې د هوايي ډګرونو او نورو رسمي بندرونو له لارې بهرته ايستنې، د بيارغاونې پر بېدفاعو کورنيو او بهرنيو کارډلو مرګوني بريدونه او داسې بې شمېره جنايتونه او بخولې او بيا په سرسرکې په پټه له طالبانوسره اړه تړه اود بېلا بېلو هېوادو ګوډاګيتوب.
افغان ليکوال اسماعېل اکبر په کورنۍ کچه د نا کاميو بنسټيز لامل د اوسني افغان دولت او په ځانګړي ډول د پوځي او امنيتي اورګانو جهاديوالی وښووه او ويې ويل د اړوندو چارواکو او ليکو په ذهنونوکې لا تر اوسه د کفر و اسلام اړو پېچ تزريق او ترينګلی پاتې دی، نو څنګه کېدای شي،د طالبانو،عربانو،پاکستانيانو يا د سيمي نورو اسلامي ترهګرو پرضد وجنګېږي!

دا زهرژلي منښته خو نيواکګرو او لاسپوڅو افغان چارواکو هم کړې چې په تېر يوه کال کې د طالبانو پرله پسې زياتېدونکی پرمختګ د دې پايله ده چې د بې امنۍ او فاسدې دولتي اداني تر څنګه بدترين ټولنوتيز (اجتماعي- اقتصادي) اکر بکر ښکېللی ډېری افغان ولس ورو ورو ځان ته راڅکوي. که نه تر پروسږ کاله د يوه ځانمرګي افغان څرک نه وو لګول شوی. هغوی ته نور د مليارډونو مرستو او بيا رغاونې نارې سورې د امريکايي ډموکراسۍ غوندې هسې بکواس او ملنډې زبادې شوي او د آزاد بازار او ځانګړې پانګونې تر نامه لاندې يې له ملي- دولتي ولکې يا سېکتور څخه ځانګړي هغه ته د يوه نيم نيمزاله را پاتې کارخونې يا کارځي لېږدونې د ژوند وروستۍ اسره هم له خاورو سره ورخاورې کړې ده. په دې کې څه اړنګ بړنګ نشته چې آن په پلازمېنه کابل کې هم ډېر وږي تږي د ترهګرو ليکو ته مخه کړي او په تشو خېټو پورې د ډبرو پرځای بمونه تړل غنيمت وګڼي!
په پای کې د افغانستان د پوځي نيواک د پينځمې کاليزې په پلمه د ګاردين دا مخوينه هم دومره بې بنسټه نه برېښي چې نن وي که سبا طالبان بيا واک و ځواک ته رسېدونکي دي!

www.ayenda.org